صداقت
خپرندویه ټولنه، کندهار

30

په اوسني عصر کې

# د مسلمان ځوانانو

دیني مسئولیتونه

لیکوال
دکتور یوسف قرضاوي

ژباړن
سید محبوب شاه ساجد

صداقت

bawar.net

ټول حقوق محفوظ دي

BAWAR LIBRARY
باور کتابتون

کتاب پېژندنه :

د کتاب نوم :: په اوسني عصر کي د مسلمان ځوانانو ديني مسئوليتونه

ليکوال :: دکتور يوسف قرضاوي

ژباړن :: سيد محبوب شاه ساجد

کمپوز او ډيزاين :: مطيع الله روهيال

شمېر :: ۵۰۰ ټوکه

چاپ کال :: ۱۳۸۷ش - ۲۰۰۸ع - ۱۴۲۸ق

خپرونکی :: صداقت خپرندويه ټولنه/ کندهار

پته

ارګ بازار، کندهار - افغانستان

صداقت خپرندويه ټولنه - د محمد عمر دوکان

اړيکي

۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴

bawar.net

# ډالۍ

زما مشرانو وروڼو ته چې د خـير په کار کې زما کلک ملاتړي او هڅوونکي دي، او ټولو هغو مسلمان ځوانانو ته چې (د اسلام سپېڅلي دين ته) د دعوت په لار کې يو تر بله همـکار دي، د خـپلو ديني مسـئوليتونو په پېژندلو کې هـڅه کوي، يو بل ته د حق او صبر توصيه کوي، د الله تبارک و تعالی ﷻ او د هـغه د رسول ﷺ سره د هـر څه نه زيات بې کـچې مينه لري، د اسلامي شريعت هر حـکم ته بېله ځـنډه د زړه له کومي غاړه ايږدي او الله تعالی ﷻ خـپل رب، محـمد ﷺ خپل سـتر رهبر او قرآن عظـيم الشان خـپل قانون ګڼي.

ژباړن

bawar.net

# فهرست


۱. د ژباړن سريزه ........................................ ۱
۲. د مؤلف سريزه ........................................ ۳
۳. مسلمان څوک دئ؟ ........................................ ۵
۴. ځواني د قوت او ځواک دوره ده ........................................ ۶
۵. ځوانان د وحي او رسالت حاملان (وړونکي) ...... ۷
۶. د ځوانانو له پاره ښې بېلګې او نمونې ........................................ ۹
۷. د مسلمانانو ځوانانو څلور ګونې مسئوليتونه ...... ۱۴

لومړی مسئوليت

۸. د اسلام صحيحه پېژندنه ........................................ ۱۴

دوهم مسئوليت

۹. په اسلام او علم باندې عمل کول ........................................ ۳۲

دريم مسئوليت

۱۰. و اسلام ته دعوت او بلنه ........................................ ۴۰

څلورم مسئوليت

۱۱. د دعوت په کار کې همکاري او ورور ولي.......... ۴۶


پای

bawar.net

# د ژباړن سریزه

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین

امابعد !

ځوانان د یوې کورنۍ، ټولنې، یوه هیواد او ملت د ملا د تیر حیثیت لري، که چیرې د یوې ټولنې یا د کوم هیواد ځوانان د عقیدې، فکر، اخلاقو او جسم له لحاظه جوړ، پیاوړي، ځان پېژندونکي او مسئولیت پېژندونکي وي، نو هغه ټولنه او هیواد به له هره اړخه پیاوړی، منظم او د هر راز مادي او معنوي پرمختګ نه برخمن وي او که داسې نه وي نو هغه ملتونه به د هر راز بدبختیو ښکار او په هر وخت او ځای کې به د هره لحاظه د غلیم او استعمار په وړاندې پر ګونډو وي.

په پورتنیو مواردو کې د هر هیواد او ملت د ځوانانو کمزوري د هغه ملت د ضعف یوه مهمه او اساسي نقطه ده، چې د اسلام غلیمانو د اسلامي امت د دې ضعیفې نقطې څخه ډېره ګټه پورته کړېده، او اوس هم په ډیره چټکتیا سره لګیا دي، (چې زموږ هیواد هم د دې بلا نه خوندي نه سو پاته) او ټول ممکنه وسایل یې په کار اچولي، ډېر کسان یې ګومارلي تر څو د مختلفو لارو د مسلمان ځوانانو (نارینه او ښځینه) عقیده، فکر او اخلاق فاسد او منحرف کړي، خپل ځان، اسلامي هویت او خپل دیني مسئولیتونه ورڅخه هېر کړي، د نفس او شیطان بندګان یې کړي، د خپلو کرغېړنو موخو او شیطاني اهدافو په خاطر یې په پټو سترګو د ځان مقلدین کړي او د استعماري اهدافو په

bawar.net

ګټه وکاروي.

نو دغو خطرونو ته په پام سره چي نوی مسلمان نسل تهديدوي دا د اسلامي علماوو، مشايخو، دعوتګرو والدينو او استادانو اسلامي دنده ده، چي مسلمان ځوانان د دې ويجاړوونکي ګرداب او ګمراه کوونکي توپان څخه چي د لوېديځ له لوري په چليدو دئ وژغوري، دوی په اسلامي لارښوونو او اسلامي اخلاقو سمبال کړي، دوی ته خپل اسلامي عقايد، عبادات، معاملات، حقوق او د اسلام هر اړخيز نظام په ښه ډول د افراط او تفريط څخه پرته په ډېر حکمت او نرمي سره وروښيي، د دوی استعدادونو ته بايد درناوی وشي، د دوی وړتياوي بايد پياوړي او پر کار ولوېږي، د دوی (ځوانانو) پوښتنو ته بايد جواب وويل سي، او هر څه د دوی په ژبه ورته وړاندي شي. د دوی په زړونو کي د خپلو مقدساتو لکه الله تعالی، قرآنکريم، پيغمبر ﷺ د هغه اصحاب، اهل بيت او نور سلف صالح سره مينه او محبت پياوړی سي او دا کتاب چي ستاسي په وړاندي دئ، د مشهور عالم او پياوړي داعي ښاغلي ډاکټر يوسف قرضاوي ليکنه ده، عربي نوم يې (واجب الشباب المسلم اليوم) دئ، چي لومړی له عربي څخه (محمد يقعوب خوشخبر) وررور په پارسي ژباړلی او موږ د دې له پاره چي پښتانه ځوانان هم ګټه ځني واخلي د پښتو ژباړي هڅه کړې، الله تعالی ﷻ دي يې راڅخه قبول او د لوستونکو د استفادې وړ وګرځوي او د هغو وروڼو څخه چي د ژباړي په ييا کتنه او تصحيح کي يې مرسته کړې، يوه نړۍ مننه کوم او د الله تعالی له دربار څخه ورته د لوی اجر غوښتونکی يم.

آمين

حقير العباد

سيد محبوب شاه ساجد

۱۳۸۶/۱۲/۸

bawar.net

# د مؤلف سریزه

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین، امابعد !

قَالَ رَبِّ ٱشْرَحْ لِى صَدْرِى ﴿٢٥﴾ وَيَسِّرْ لِىٓ أَمْرِى ﴿٢٦﴾ وَٱحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِى ﴿٢٧﴾ يَفْقَهُوا۟ قَوْلِى ﴿٢٨﴾ (سورة طه، ۲۵-۲۸ آیتونه)

ترجمه :

اې ربه زما پرانیزه او ارته کړه سینه زما او آسان کړه ما ته دغه مهم کار (چې تبلیغ دئ) او پرانیزه غوټه له ژبې زما تر څو خلک مې په خبرو وپوهېږي د تبلیغ په وخت کې.

اې الله ﷻ ! اې د آدم او ابراهیم علیهما السلام روزونکې ! فایده من علم راته راکړې او د زده کړې له علم څخه (د دنیا او آخرت) ګټه رانصیب کړې، علم او پوهه مو نوره هم را زیاته کړې او هر وخت ستا ثنا ووایو، د دوږخ او دوږخیانو له حالاتو څخه تا ته پناه دروړو.

زما ننني خبرې به د اوسني عصر یعنې (انټرنیټ او ارتباط په عصر کې) د ځوان مسلمان نسل د دیني دندو او مسئولیتونو په اړوند وي.

په عامه توګه د ځوانی مفهوم له خلکو سره یو څه خو د یو مسلمان ځوان په حیث ځواني بل مفهوم لري :

مسلمان ځوان (د خپلې عقیدې او تولنې) په وړاندې ډېرې دندې

bawar.net

او مسئوليتونه لري، کوم چې د وخت او ځای له غوښتونو سره سم بدلون مومي.

نو راځئ چې په راتلونکو کرښو کې وګورو، چې د نوي عصر مسلمان ځوان د خپلې عقيدې او ټولنې په وړاندې کومې دندې او مسئوليتونه پر غاړه لري؟

bawar.net

# مسلمان څوک دئ؟

مسلمان هغه څوک دئ، چې د دې (موجوده مخلوقاتو او کائناتو) او د دغې هستۍ اساس او د یو تلپاته رسالت درلوونکی دئ. مسلمان د الهي شریعت وارث او د نورو پیغمبرانو څخه د راپاته میراث وارث دئ، کوم چې ټول د اسلام په دین کې د ژوند د کړنلارې او دین په عنوان ښودل سوي دي. یا په بل عبارت کومې لارښوونې چې په پخوانیو آسماني دینونو کې موجودې وې د اسلام په سپیڅلي دین کې را خلاصه او ځای پر ځای سوي دي. هغه دین د کوم (دین) په تکمیلېدو چې الله تعالی پر خپلو بندګانو د نعمت او احسان په دول پېرزوینه کړې ده. لکه چې الله تعالی فرمايي :

﴿ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِى وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا﴾ (سورة المائده – ۳ آیت)

ترجمه :

نن ورځ مکمل او پوره کړ ما تاسي ته دین ستاسي (اصولاً او فروعاً) او پوره مي کړ پر تاسي اې مومنانو نعمت (د دین په اکمال) او غوره کړ ما تاسي ته اسلام له جهته د دین (د هر پاکیزه په ټولو ادیانو کې).

مسلمان دئ چې دغه (الهي، سپیڅلی او پاک) رسالت پر غاړه اخلي. دا رسالت د حضرت محمد او د قرآن کریم رسالت دئ، او د تل له پاره پاته رسالت دئ.



bawar.net

# ځواني د قوت او ځواک دوره ده

د ځوانۍ دوره د توان، د ژوند د راز، د ګرنده ثمر بخښونکو هڅو دوره ده، ځکه ځواني د ژوند منځنۍ مرحله ده او د هر شي منځنۍ برخه د هغه شي غوره برخه وي. د ورځې په نيمايي کې چې د لمر د آسمان منځ او زړه ته ورسېږي، رڼا او تودوخه يې زياته او پوره سي، په دې اساس ويلای سو، چې د ځوانۍ مرحله د انسان په ژوند کې د مېړانې، خوځښت، بيدارۍ او تازه ګۍ مرحله ده. په همدې دليل د انسان د ژوندانه ډېره مهمه مرحله شمېرل کېږي.

ځواني د ورکړې او بخشش او د ستونزو او مشکلاتو په وړاندې د صبر، استقامت او پايدارۍ مرحله ده. همدا لامل دئ چې د اسماني او الهي دعوتونو بلونکي، حاملين او ملاتړي ټول ځوانان وه.

bawar.net

# ځوانان د وحي او رسالت حاملان

(وړونکي)

الله جل جلاله د موسی علیه السلام د یارانو په اړوند موږ ته داسي فرمایي:

فَمَآ ءَامَنَ لِمُوسَىٰٓ إِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّن قَوْمِهِۦ عَلَىٰ خَوْفٍ مِّن فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِمْ أَن يَفْتِنَهُمْ (سورة یونس - ۸۳ آیت)

ترجمه:

نو ایمان نه و راوړی (لومړی) پر موسی علیه السلام باندي مګر څو اولادو (ځوانانو) له قومه د ده سره د وېري له فرعونه او د مشرانو د دوی له دې نه چي دوی ونه ښویوي.

د اصحاب کهف (د سمڅي د یارانو) په اړوند فرمایي:

نَّحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُم بِٱلْحَقِّ ۚ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ ءَامَنُوا۟ بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَٰهُمْ هُدًى ﴿١٣﴾ (سورة الکهف - ۱۳ آیت)

ترجمه:

موږ کیسه کوو تا ته خبر حال د دوی په حقه سره بېشکه دوی داسي ځوانان او ځلمیان دي چي ایمان لري پر خپل رب او زیات کړی و موږ دوی له جهته د هدایت.

یعني د ایمان څخه زیاته درجه یې ورته ورکړه، چي د اولیاوو

bawar.net

درجه ده.

الله تعالی ﷻ د بت ماتوونکي ابراهيم عليه السلام په اړه موږ ته داسي خبر راکوي، چا چي د لوی بت نه پرته نور ټول بتان مات کړه هغه يې په دې نيت پرېښود چي مشرکان ورته د پېښې له ليدلو نه وروسته مراجعه وکړي.

الله تعالی د دغو بت پرستو مشرکانو د خولې نه داسي فرمايي :

قَالُواْ سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُۥٓ إِبْرَٰهِيمُ ﴿٦٠﴾ (سورة الانبياء – ٦٠ آيت)

ترجمه :

وويل ځينو کفارو، چي اورېدلي وو موږ له يوه ځوان (ځلمي) څخه چي يادول به يې دا بتان په بدي سره چي ويلي سي ده ته ابراهيم.

يعني د هغه ځوان نوم ابراهيم دئ، دا په دې معنی چي ابراهيم عليه السلام د عمر له لحاظه ځوان او د ځوانۍ په مرحله کي و.

bawar.net

# د ځوانانو له پاره ښې بېلګې او نمونې

په قرآنکريم کې د ځوانانو په اړه ډېر څه ويل سوي دي، چې د فضايلو او پاکې ځلېدونکې نمونې دي.

## سربښندونکی اسماعیل عليه السلام

قرآن کريم موږ ته د اسماعيل عليه السلام په اړوند خبر راکوي، د هغه فداکار، اخلاصمن او د الله تعالی امر ته تسليم ځوان بيان داسي کوي، چي هغه تنکی او مبارک ځوان د خپل ګران پلار سره کعبې شريفي ته نژدې د (سعي) نومي ځای ته ورسېد ل ابراهيم عليه السلام د الله تعالی له امر اسماعيل عليه السلام ته د هغه د ذبح کولو وړانديز کوي، هغه (اسماعيل عليه السلام) په خپله اراده او اختيار د الله تعالی د امر او فرمان د تر سره کېدو له پاره خپل سر قربانوي:

فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ ٱلسَّعْىَ قَالَ يَٰبُنَىَّ إِنِّىٓ أَرَىٰ فِى ٱلْمَنَامِ أَنِّىٓ أَذْبَحُكَ فَٱنظُرْ مَاذَا تَرَىٰ ۚ قَالَ يَٰٓأَبَتِ ٱفْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۖ سَتَجِدُنِىٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٠٢﴾ (سورة الصافات-۱۰۲آيت).

ترجمه:

پس کله چي ورسېد اسماعيل سره د خپل پلار حد ته د سعي وويل ابراهيم اې زويه زما! بېشکه زه پر له پسې وينم په خوب کي داسي چي

bawar.net

بیشکه زه ذبحه کوم تا پس ته هم نظر وکړه چي څرنګه مصلحت ګڼې؟
وویل اسماعیل: اې پلاره! وکړه ته هماغه چي حکم یې درباندي سوی دئ، ژر ده چي وبه مومي ما ته که اراده فرمایلې وي الله تعالی له صبر کوونکو نه.

ډېره جالبه دا ده چي هغه داسي ونه ویل:
زما په اړه چي هر دستور له ځانه سره لرې تر سره یې کړه! بلکي داسي یې وویل: د الله ﷻ فرمان تر سره کړه! په دې معنی چي خپل ځان یې یاد نه کړ، بلکي خپل ژوند او وجود یې د الله ﷻ د فرمان په مقابل کي هیڅ وباله هغه وخت یې خپل پلار ته داسي وویل:
هر دستور چي د الله تعالی له لوري لرې هغه تر سره کړه او په دې اړه له ما څخه هیڅ پوښتنه مه کوه.

**پاک لمنی، د حیاء ښتن او صدیق یوسف علیه السلام:**

قرآن کریم موږ ته د یوسف علیه السلام په نوم د یو بل ځوان خبري کوي، دا هغه ځوان دئ، چي جنسي شهوت او لذت په خپل ټول قوت او جاذبې سره هغه ته وړاندي سو، خو هغه په ډېره مېړانه او پوره ایمانداري سره د هغه څخه انکار وکړ.

دا په داسي حال کي چي د قبول ټول اسباب ورته مهیا وه او هغه ځای د ټول نړۍ د انسانانو د سترګو نه پټ او پناه و، خو یوسف ـ په دې خبره پوره ایمان درلود، چي قادر، عالم او بصیر خدای په هر ځای کي لیدونکی دئ.

ښکلي او ښایسته ځوان د ځوانۍ د قدرت او تازه ګۍ په مرحله کي، غریب ځوان چي هیڅوک یې نه پېژني تر څو د خپلو کارونو په خاطر تر ملامتیا لاندي ونیول سي، مجرد دئ واده هم نه لري تر څو د ده

bawar.net

پاک لمني د واده او زوجې په واسطه وساتل سي او دی (يوسف عليه السلام) د نورو ښځو څخه بې نيازه کړي او هغه ښځه چي دی يې ځان ته رابللی و، فاسده، عادي او بازاري ښځه نه وه، بلکی د لوړ مقام او عزت څښتنه وه. هغه د پادشاه مېرمن وه او يوسف عليه السلام د هغوی په کور کي دننه خدمتګار!

په کوم امتحان کي چي يوسف عليه السلام راښکېل سوی و، عارضي او د يوې لحظې آزموينه او فتنه نه وه بلکي هغه سهار او ماښام وخت او ناوخته پکښې راګير و، علاوه پر دې هغه د پادشاه مېرمن وه، چي دی يې ځان ته رابللی و، او خپله غوښتنه يې ورڅخه په اشاره او کنايه هم نه وه مطرح کړې، بلکي له پيل څخه يې ورته ښکاره ويلي وه، چي:

(هيت لک) را وړاندي سه!

مګر يوسف عليه السلام په ډېر ښکاره او صريح ډول له دې کار څخه ډډه او بېزاري وښووله او داسي يې وويل:

مَعَاذَ ٱللَّهِ إِنَّهُۥ رَبِّيٓ أَحۡسَنَ مَثۡوَايَۖ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٣﴾

(سورة يوسف- ۲۳ آيت)

ترجمه:

وويل يوسف پناه نيسم په الله تعالی پوري، چي بېشکه مالک او خاوند زما دئ، چي ښه يې کړېده ساتنه زما بېشکه شان دا دئ چي نېکي نه مومي ظالمان (چي د نېکی پر ځای بد يا زنا کوي).

کله چي د شاه مېرمن ونه توانېده چي يوسف عليه السلام ځان ته رام کړي نو يې په تهديد ډوله لهجه داسي وويل:

مَآ ءَامُرُهُۥ لَيُسۡجَنَنَّ وَلَيَكُونٗا مِّنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ رَبِّ ٱلسِّجۡنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدۡعُونَنِيٓ إِلَيۡهِۖ وَإِلَّا تَصۡرِفۡ عَنِّي كَيۡدَهُنَّ أَصۡبُ إِلَيۡهِنَّ

bawar.net

وَأَكُن مِّنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٣٣﴾ (سورة يوسف، ۳۲ – ۳۳ آيتونه).

ترجمه:

او بېشکه ما دی خپل ځان ته را اړولو، خو خپل ځان يې رانه وساته او بچ کړ او که چيري يې ونه کړ ده هغه څه چي زه يې ده ته وايم نو ضرور به زنداني کړل سي او ضرور به وي د ذليلو خلکو نه. نو وويل يوسف عليه السلام اې ربه زما! بندي خانه ما ته ډېره ښه ده ما ته له هغه کاره چي بولي دا ښځي ما هغه ته.

يوسف عليه السلام د دوو ستونزو له منځه د يوه مشکل د اختيار چانس درلود، هغه دا چي يا به يې په دين کي مصيبت مانه چي عبارت له ناوړه عمل څخه و او يا به يې د دنيا مصيبت ګاله چي هغه زندان و، خو دغه ايمانداره ځوان د دنيا زندان ومانه تر څو يې دين ته نقصان او زيانه ونه رسيږي، نو داسي يې وويل:

رب السجن احب الی ما يدعونني اليه...

ترجمه:

نو وويل يوسف اې ربه زما! بنديخانه ډېره خوښه ده زما له هغه کاره چي بولي دا ښځي ما هغه ته. او زموږ پيغمبر رضي الله عنه هم موږ ته راښوولي تر څو په دې اړوند داسي ووايو:

اللهم لا تجعل مصيبتنا فی ديننا و لا تجعل الدنيا اکبر همنا و لا مبلغ علمنا[1].

ترجمه:

اې الله! امتحان او مصيبت مو په دين مه ګرځوه او دنيا مو لويه غوښتنه او د علم آخري موخه مه ګرځوي.

---

[1] دا حسن حديث دئ، چي ترمذي او حاکم د ابن عمر نه روايت کړی دئ. صحيح الجامع الصغير: ۱۲٦۸.

bawar.net

دا ځوانان وه ! رښتيا مسلمان ځوان بايد همدغسي وي. ځوانان تل د قوت سرچينې پاته سوي دي او د رسالتونو او نهضتونو درانه مسئوليتونه هم دوی پورته کوي. همدا ډول زموږ د پيغمبر ملګري (اصحاب) اکثره ځوانان وه اولين راشد خليفه حضرت ابوبکر صديق ﷺ چي د عمر له لحاظه پر زياتو اصحابو کرامو مشر و، د مسلمانېدو په وخت کي د اته دېرشو کالو و. حضرت عمر فاروق ﷺ لس کاله د حضرت ابوبکر صديق ﷺ څخه کشر و، حضرت علي کرم الله وجهه چي په کومه ورځ اسلام راوړ، عمر يې د لسو کلونو څخه کم و.

داسي ډېر اصحاب وه، چي د مسمانېدو په وخت کي د خپل عمر په دوهمه لسيزه کي وه الله تعالی دي د دوی ټولو نه راضي وي. له دې کبله د مسلمان ځوان مسئوليتونه او دندې د خپل دين او اسلامي امت په وړاندي ډېري دي، په ځانګړې توګه په اوسني عصر کي نو ځوانان بايد خپل ځان وپېژني او په دنيا کي خپل رسالت ته اماده او ورڅخه خبر اوسي.



bawar.net

## د مسلمان ځوانانو څلورګوني مسئولیتونه

په اوسني عصر کې مسلمان ځوانان څلور اساسي مسئولیتونه لري، چې زموږ د لاندني بحث موضوع به وي.

### لومړی مسئولیت

# د اسلام صحیحه پېژندنه

بیله شکه د مسلمان ځوان د څلورګونو مسئولیتونو څخه لومړنی مسئولیت دا دئ، چې هغه د اسلام دین په سمه توګه وپېژني، او ورباندي پوه سي. ځکه چې د عمل نه وړاندي پر هغه عمل پوهه او علم ضروري دئ د دې له پاره چې مسلمان ځوان د خپل دین څخه خبر سي باید د اسلام حقیقت په ښه توګه وپېژني، دا ځکه چې ځینو خلکو د اسلام سره جفا کړېده، داسي شیان یې اسلام ته د دین په نوم داخل کړي، چې اصلاً د اسلام سره هیڅ ربط او تړاو نه لري او د اسلام د دین څخه یې ځیني اساسي احکام او لارښووني حذف کړي دي.

په تېرو وختو کي ځینو خلکو په اسلام کي داسي شیان وراضافه کړل، چې د اسلام څخه نه وه چې په پایله کي یې د اسلام ښکلې او

bawar.net

روښانه ځېره لکه داره کړه او سوچه توب يې ورککړ کی. خلکو خواره واره بدعتونه او داسي شيان چي د هغو د اثبات او حقانيت په اړه الله تعالی هيڅ دليل نه دئ رالېږلی د بدعت حسنه او (زيادة الخير، خير) د ښه کار د ډېروالی خير دئ تر عنوان لاندي قبول او ور اضافه کړل. دا په داسي حال کي چي د الله تعالی رسول ﷺ په دين کي د هرډول زياتي او بدعت ورګډېدني څخه موږ په ټينګه منع کړي يو، دا ځکه چي کوم شی چي په ځان کي ډېروالی او اضافه توب قبلوي هغه بيا لږوالی او نقصان هم مني، خو کامل شی نه ډېروالی او نه کموالی مني. الله تعالی ﷻ خپل دا دين پوره او کامل نازل کړی دئ، او په هغه کي د هيچا ډېروالی او کموالی نه مني، لکه چي فرمايي:

اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا (سورة المائده – ٣ آيت)

ترجمه:

نن ورځ مکمل او پوره کړ ما تاسي ته دين ستاسي او تمام (پوره کړ) پر تاسي اې مومنانو ! نعمت د دين په اکمال او غوره کړ ما تاسي ته اسلام له جهته د دين.

هغه خلک چي غواړي پر دين باندي نوي شيان ور اضافه کړي ګويا دوی (نعوذبالله) غواړي په دې کار سره د الله تعالی ﷻ د کار نيمګړتياوي ليري او پوره کړي !!! ددوی (بدعتيانو) په ګمان دين ناقص دئ او دوی يې د نويو شيانو په اضافه کولو سره بشپړوي، چي دا ډېر ناوړه او ګمراه کوونکی کار او ګمان دئ.

همدا لامل دئ، چي رسول الله ﷺ موږ له هر زيادت څخه منع کړي يو او فرمايلي يې دي:

اياكم و محدثات الامور، فان كل بدعة ضلالة[۱].

ترجمه:

تاسي په دين کي د نوي شي او خبري د پيدا کولو څخه ځان وساتئ (ځکه چي په دين کي هر نوی کار بدعت دئ) او هر بدعت ګمراهي ده.

او فرمايلي يې دي:

من احدث فی امرنا هذا ما ليس منه فهو رد[۲].

ترجمه:

چا چي زموږ په دين کي داسي نوې خبره او نوی کار ايجاد کړ چي هغه له دين څخه نه وي نو هغه مردود او نامنظور دئ.

د اسلام په سپېڅلي دين کي بدعت او نوی والی مردود او د نه منلو وړ کار دئ خو په همدغه نړيوال دين کي د دنياوي کارونو په اړوند نوښت او نوی والی د تائيد وړ او منلی کار دئ.

په تأسف او خواشيني سره کله چي د مسلمانانو حال او اوضاع بدلون وموند او پر مسلمانانو باندي د انحطاط او وروسته پاته والي دور راغی د دې پر ځای چي د دنيا په کارونو کي يې په اختراع او نوي والي لاس پوري کړی وای په دين کي يې په نوي والي او بدعتونو لاس پوري کړ په دنياوي ژوند کي د هيڅ ډول پرمختګ او ترقۍ خاوندان نه سول، چي په نتيجه کي د مسلمانانو ژوند د ولاړو اوبو په شان وګرځېد. نو ځکه د مسلمان ځوانانو څخه غواړو، چي اسلام په سمه او صحيحه

---

[۱] دا حديث ترمذي په کتاب العلم کي روايت کړی دئ، او ابن ماجه د خپل کتاب په مقدمه کي روايت کړی دئ.

[۲] دا حديث امام بخاري په کتاب الصلح او امام مسلم په کتاب الاقضيه کي د حضرت عايشي رضي الله عنها څخه روايت کړی دئ.

bawar.net

تو ګه زده کړي تر څو بيرته و خپلي اصلي او رښتينې سرچينې ته وګرځي.

په تېرو وختونو کي يې غوښتل چي پر عقيدوي، فقهي او نورو ديني مسائلو څه نوي شيان ور زيات کړي، خو په اوسني عصر کي ځيني ضعيف الايمانه او د پردو مزدوران هڅه او کوښښ کوي تر څو ځيني اساسي او بنسټيز احکام او لارښووني د اسلام د دين څخه حذف کړي، دوی د داسي يو اسلام غوښتونکي دي چي جهاد ونه لري، د قاتل، غله، زناکار او شراب خور له پاره قصاص، حد، سنګسار او په درو وهل ونه لري. داسي اسلام غواړي چي په هيڅ شرايطو دي طلاق او د څو ښځو درلودل نه وي، داسي اسلام غواړي چي دولت او حکومت ونه لري، د دوی په اند دين او دولت دواړه بېل او جلا شيان دي، يعني سيکولاريزم (د دين او دولت جلاوالی) د دوی په نظر دين يو شخصي چاره ده او د دولت داري او سياست سره هيڅ ډول تړاو نه لري (د دغو ناپوهانو ستونزه دا ده چي اسلام يې پر اوسني تحريف سوي مسيحيت باندي قياس کړی دئ، ژباړن)

دا ټولي هڅي د دې له پاره دي څو د اسلام دين د مهمو احکامو او اساسي لارښوونو څخه تش او خالي کړي، مګر موږ دغه ټولي هڅي په کلکه سره ردوو او هيڅ زيادت او نقصان د اسلام په دين کي نه قبلوو، موږ غواړو چي ټول شيان دي پر خپل ځای وي هر حکم او لارښوونه دي د وړاندي والي او وروسته والي له لحاظه مشخصه او معلومه وي، ځکه چي اسلامي لارښووني او احکام ټول په يوه درجه او مرتبه کي نه دي واقع، بلکي هر يو د خپلي مرتبې درلودونکی دئ، په دې معنی چي عقيدوي مسائل د اسلام اساس، بنسټ او پايه تشکيلوي تر هغه وروسته فرايض او واجبات ځای لري چي د اسلام د ارکانو نه عبارت دي.

بنی الاسلام علی خمس : شهادة ان لا اله الا الله و ان محمدا رسول

bawar.net

الله و اقام اصلاة و اتياء الزکاة و صوم رمضان و حج البيت من استطاع اليه سبيلا.

يعني د اسلام بنياد پر پنځو شيانو ولاړ دئ:

۱. دا دې شاهدي ورکول، چي د الله نه پرته بل معبود نسته او محمد ﷺ د خدای رسول او پیغمبر دئ.

۲. لمونځ کول.

۳. زکات ورکول.

۴. د رمضان د مياشتي روژه نيول.

۵. حج کول، د هغه چا له پاره چي لار ورته پيدا کړي او وس يې ولري.

دغه احکام هم د درجو او مرتبو له لحاظه متفاوت دي. په اسلام کي عيني فرايض وجود لري، چي پر هر مسلمان باندي د هغو اداينه فرض او حتمي ده. همدارنګه کفايي فرض هم موجود دي، هغه داسي که چيري ځيني مسلمانان هغه تر سره کړي د نورو مسمانانو غاړي خلاصيږي او که ټول مسلمانان هغه اداء نه کړي ټول ګنهکاره دي.

تر دې وروسته د سنتو ځای او درجه ده، چي د هغو پر اداینه ډېر تأکيد او ټينګار سوی دئ او تر دې وروسته د مستحباتو مرتبه ده، چي تر مؤکدو سنتويې درجه ټيټه ده، که چيري يو مسلمان په هغو (مستحباتو) عمل وکړي د زيات اجر او ثواب مستحق ګڼل کيږي او که پرېښوول سي ړټنه او عذاب باندي نسته.

په همدې توګه ديني واجبات او مسائل ټول يو ډول نه دي، بلکي هريو يې ځان ته ځانګړې مرتبه او ځای لري.

شرک هم په اکبر (لوی) او اصغر (کوچني) شرک[1] وېشل سوی

[1] لکه رياء ته چي کوچنی شرک ويل سوی (ژباړن).

bawar.net

دئ، ګناهونه هم پر لويه او وړه ګناه يعني کبيره او صغيره وېشل سوي دي. هغه داسي چي کوچني او وړوکي ګناهونه د پنځه وخته لمونځ په سمه توګه ادا کولو او نورو نېکو اعمالو سره معافېږي.

امام مسلم په خپل صحيح کي داسي روايت کړی دئ:

الصلوات الخمس و الجمعة الی لجمعة و رمضان الی رمضان مکفرات لما بينهن اذا اجتنبت الکبائر.

يعني پنځه وخته لمونځونه، يو جمعه تر بلي جمعې او يوه د رمضان مياشت تر بلي رمضان پوري هغه ګناهونه رژوي، چي د دوی په منځ کي وي، خو په دې شرط چي د کبيره ګناه نه ځان وساتي.

(خو دا خبره دا معنی نه لري، چي يو مسلمان دي د صغيره ګناهونو نه ځان ونه ژغوري بلکي پر هر مسلمان لازمه ده چي د خپل وس په اندازه د کوچنيو ګناهونو نه هم ځان وژغوري، ځکه چي وړوکي او کوچنۍ ګناه د لويو ګناهونو د ارتکاب له پاره مقدمه ده، ژباړن).

مګر کبيره او لويه ګناه د سمي توبې نه پرته او تر څو چي د نورو وګړو حقوق يې خپلو خاوندانو ته نه وي سپارلي نه معافېږي.

همداسي ځيني شبهات وجود لري چي د حلال والي او حراموالي په اړه يې ستر ستر علماء د نظر اختلاف لري، ځيني يې حرام ګڼي او بعضي يې حلال بولي چي د دغو شيانو تحريم د هغو مسائلو غوندي نه دئ کوم چي د حرمت په هکله يې ټول علماء متفق دي او حلال يې هم همداسي دي.

مکروهات هم دوه ډوله دي، تحريمي او تنزيهي، مکروه تحريمي هغه دي چي حرامو ته نژدې وي او تنزيهي مکروه هغه دي چي حلالو ته نژدې وي.

دا به ډېر ښه کار وي چي هر شي ته په خپل ځای او مقام کي ځای ورکړو، هغه چي د وړاندي والي حق لري وړاندي او مقدم و بولو او هغه

bawar.net

څه چې په وروسته دوهمه او دريمه درجه کې قرار لري پر خپل ځای يې پرېږدو. د بېلګې په توګه د هغه څه په اړه چې د تنزيهي مکروه په درجه کې قرار لري يا يې په اړه د علماوو ترمنځ د نظر اختلاف دئ سختې لفظي شخړې او جنجالونه ونه کړو.

همدا سبب دئ چې د دين د اولويتنو او مهمو مسائلو پېژندنه ضروري او اړينه ده.

د عقايدو بنسټ پر توحيد باندې د ړول مهمه او ضروري موضوع ده.

د فرايضو په سمه توګه تر سره کولو کې هيڅ ډول کهالي، سستي، بېباکي او غفلت روا نه دئ.

د کبيره ګناهونو نه په کلکه او ټينګه ځان ساتل په کار دي.

زموږ موخه دا ده، چې د اسلامي احکامو او لارښوونو د پېژندلو په وخت کې بايد اولويتونو او بنسټيزو شيانو ته ډېره توجه وکړو او نورو ته يې وروښيو. يو دعوتګر بايد د ديني مسائلو او احکامو خپل منځي تفاوت او سلسله مراتب په سمه توګه وپېژني تر څو د جزئي او فرعي مسائلو پر سر خپل ژوند او د نورو ژوند او وخت ضايع، تريخ او تباه نه کړي، او په دې خبره بايد پوه سو چې نن ورځ اصلي شخړه او مبارزه د کفر او اسلام ترمنځ ده نه د اسلامي مذاهبو او ډلو د جزئي او فرعي مسائلو پر سر.

د اسلام په زده کړې بايد لاندې ټکو ته پاملرنه وکړو.

اسلام د خپل اصلي پاکو او صافو سرچينو څخه واخلو.

يعني د خدای ﷻ کتاب (قرآن) او د پيغمبر ﷺ و سنتو ته مخه کړو، د اصحابو کرامو او تابعينو پوهي او درک ته چې د اسلام په اړه يې درلود ځانو ته متوجه کړو، ځکه چې هغوی په ډېر بهترين وخت او عصر کې اوسېدل او اسلام يې لکه څنګه چې ښايي هماغسې زده کړی

bawar.net

و هغوی د اسلام پيغام او روح تر موږ ډېر ښه پېژانده او د علم په ډګر کي خو موږ د هغوی د پښنو خاورو ته هم نه سو رسېدلای. په اسلام باندي زموږ عمل د دوی د اعمالو په پرتله داسي دئ، لکه د رېګ يوه دانه د لوی غره په مقابل کي نو بايد اسلام د هماغه لومړني مدرسې څخه زده کړو، هغه مدرسه چي هيڅ ډول شک او ګډوډي هغې ته لاره نه درلوده تر څو پاکه او روښانه څېره يې وربدرنګه کړي.

بېله شکه په اسلام او مسلمانانو کي د اسرائيلياتو، ضعيفو رواياتو، موضوعي احاديثو، افراطي او تفريطي خيالاتو ورګډېدل او وروسته د اسلام ښه غوره کول د اسلام ښکلې څېره وربدرنګه کړل دا ټول د مسلمانانو سره د نورو ملتونو، امتونو، مختلفو ډلو او مذاهبو په ګډه او يو ځای اوسېدلو په نتيجه کي رامنځته سول دا ځکه چي د نورو انسانانو د عقايدو، دود او دستور او افکارو څخه اغېزمنتيا د انسان طبيعي او بشري غوښتنه ده. د دغو او نورو موضوعاتو په اړه بايد د پوهو او مخلصو عالمانو څخه پوره او سم معلومات تر لاسه کړو او په دې باندي وپوهېږو لکه څنګه چي د امام مالک، عطاء او ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت کړی دئ، چي:

ان کل احد يوخذ من کلامه و يترک الا المعصوم !

يعني د هر چا کلام او خبره د رد او قبول وړ ده ماسوا د معصوم د کلام څخه چي پيغمبر ﷺ دئ.

ې

نو مسلمان ځوان بايد د اسلام څخه سمه پوهه ولري. خو دا خبره په دې معنی هم نه ده چي موږ د هري ځانګي د محصل نه دا غواړو چي خپله تحصيلي ځانګه پرېږدي او يوازي دي د تفسير، احاديثو او اصولو د کتابونو مطالعه وکړي موږ د هر چا او ټولو خلکو څخه په دين کي تخصص او دوکتورا نه غواړو، خو ځيني کسان بايد حتماً په دين

bawar.net

کي تخصص او پوره پوهه ولري.

لوی خدای ﷻ هر څوک پر هغه لار روانوي، چي د هغه له پاره پيدا سوې وي. الله تعالی ﷻ داسي فرمايي:

وَمَا كَانَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا۟ كَآفَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا۟ فِى ٱلدِّينِ وَلِيُنذِرُوا۟ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوٓا۟ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾ (سورة التوبه - ۱۲۲ آيت).

ترجمه:

او نه دي مومنان داسي چي ووزي ټول له (غزا يا د علم طلب ته په هر وخت کي) نو ولي نه ځي له هري ډلي له دې مومنانو نه يوه ټولۍ (او نور دي پاته سي په کور کي) د دې له پاره چي پوهه پيدا کړي دغه (تلونکي) په دين کي.

او له پاره د دې چي خبر ورسوي قوم خپل ته کله چي بيرته راسي دوی په لوري د هغوی له پاره د دې چي هغوی ووېرېږي د الله څخه او ځانونه وژغوري د معاصيو.

په دين کي تخصص او پوره پوهه درلودل او څېړنه کول کفايي فرض ده، نو ځکه بايد ځيني کسان دغه مسئوليت پر غاړه واخلي تر څو وکولای سي چي نورو ته يې ور زده کړي او عامو مسلمانانو ته د ديني پوښتنو د جواب او فتوا مرجع وګرځي.

خو دا بيا پر مسلمان فرض ده، چي خپله عقيده و پېژني، حلال او حرام، امر او نهي وپېژني او خپل عبادات، معاملات او اخلاق په سمه او د خدای ﷻ او د هغه د پيغمبر ﷺ د لارښوونو سره سم تر سره کړي او د الهي احکامو او حدودو څخه تېری ونه کړي او بيا ټينګار کوم چي اسلام بايد د خپلو پاکو او روڼو سرچينو او منابعو څخه چي قرآن او

bawar.net

نبوي سنت دي زده کړل سي او په دې اړه بايد د افراط او تفريط څخه په کلکه ډډه او پرهېز وسي. ډېر لوی زيان او تاوان چي اسلام او مسلمانانو ته رسېدلی، هغه د افراط او تفريط څخه رسېدلی دئ.

موږ د هغه مسلمان ځوان څخه چي په اسلام عمل کوي د دې غوښتونکي يو چي په درس ويلو سره تر نورو ځان وړاندي او ګرندی کړي او د يوې غوره نمونې په توګه نورو ته دا خبره ثابته او واضح کړي چي دين د تحصيل، زده کړي او پرمختګ د لاري خنډ نه دئ، په دې ډګر کي بايد يو مسلمان ځوان ډېر ځير او متوجه اوسي چي خپل ټول ديني او دنياوي واجبات او مسئوليتونه په خپل ځای او وخت کي تر سره کړي او هر کار او هر شي ته د هغه د مقام او مرتبې په اندازه ارزښت او اهميت ورکړي. درس ويل او په خپلو درسونو کي بريالیتوب تر لاسه کول د هر دعوتګر له پاره واجب او ضروري کار دئ.

په دې توګه چي د ژوند ټوله کړنلاره بايد د ديني لارښوونو پر اساس منظم او عيار کړي. د بېلګي په توګه يو ځوان بايد د طهارت (اودس پاکي) او د لمانځه احکام زده کړي يا د روژې اساسي احکام بايد وپېژني تر څو لمونځ او روژه په سمه توګه اداء کړي او که چيري د حج د اداينې نيت لري، نو د ده له پاره د حج د احکامو او مسائلو زده کول ضروري دي او ضرور بايد د حج د مناسکو په اړه يو کتاب مطالعه کړي تر څو د حج د اداء کولو په وخت کي ټول مناسک او اعمال په سمه طريقه اداء کړي او حتمي نه ده چي ټول خلک دي د حج د مناسکو په اړه تحقيق او څېړنه پيل کړي، خو که يو ځوان د حج د فريضې د اداينې قصد لري نو په دې اړه يو کتاب بايد مطالعه کړي. که يو څوک غواړي چي عمره تر سره کړي نو د عمرې د احکامو په اړه بايد معلومات لاس ته راوړي او يو کتاب مطالعه کړي او که لوی خدای ﷻ چا ته مال او دارايي ورکړې نو د زکات د ورکړې مسائل او احکام بايد زده کړي او

bawar.net

که سوداګر وي نو د رانيولو (پېرودلو) او خرڅولو (پلورلو) اصول او د تجارت او بيعو په اړه مسائل زده کړي لکه د سود، پور او داسي نورو احکامو زده کړه چي د هر سوداګر له پاره اړينه او ضروري ده.

يو مسلمان بايد د ورځني ژوندانه آداب، احکام او مسائل لکه خوراک، څښاک، ليدل، اورېدل، د خلکو سره ناسته ولاړه او داسي نور هغه کارونه چي د ورځني ژوند په بهېر کي ورسره مخامخ کېږي زده کړي تر څو د ناپوهۍ له کبله په حرامو کي ښکېل نه سي يا د ناپوهۍ له امله نور خلک د مباح (روا) کار په خاطر ونه رټي، يا مکروه قطعي حرام ونه ګڼي يا صغيره ګناه کبيره ونه بولي يا برعکس ګمان ونه کړي. د اسلام همدغه ډول پېژندنه حتمي او ضروري ده، ځکه اسلام يو داسي دين دئ چي اساس او بنسټ يې پر علم او پوهي ولاړ دئ.

د اسلام دين د نورو دينونو غوندي نه دئ، چي وايي: په پټو سترګو او په مطلقي ناپوهۍ سره يو شي ته عقيده ولره. په پټو سترګو او تړلو غوږونو پيروي او تقليد[1] وکړه. يا د علم او پوهي نه پرته تقوا غوره کړه، بلکي اسلام داسي وايي:

قُلْ هَٰذِهِۦ سَبِيلِىٓ أَدْعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ ۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِى

(سورة يوسف-۱۰۸ آيت).

ترجمه:

ووايه (اې محمده دوی ته) چي دغه (ايمان او توحيد) لاره زما ده، چي (ټينګ پر ولاړ يم) بولم زه ټول خلق طرف د (توحيد) د الله ته په بيان (او ښکاره دليل) سره هم زه او (هم هر) هغه څوک چي متابعت او پيروي کوي زما.

---

[1] د تقليد نه مراد په عقيدوي مسائلو کي دئ، چي په فرعي مسائلو کي د مجتهدينو سره اشتباه نه سي (ژباړنه).

bawar.net

نو هر څوک چي د خدای ﷻ د پيغمبر ﷺ پيرو او متې وي د هغه دنده او وظيفه هم همدا ده، چي په دليل، برهان، پوهي او معرفت به خلک د خدای ﷻ دين ته دعوتوي.

الله تعالى فرمايي:

أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِۦ كَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهْوَآءَهُم ﴿١٤﴾ (سورة محمد - ۱۴ آيت).

ترجمه:

آيا څوک چي وي په واضح دليل د خپل رب له طرفه په شان د هغه چا دي چي ښايسته کړی سوي دي ده ته د ده بد عملونه او دوی پيروي وکړه د خپلو نفساني خواهشاتو.

او فرمايي:

أَفَمَن شَرَحَ ٱللَّهُ صَدْرَهُۥ لِلْإِسْلَٰمِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ مِّن رَّبِّهِۦ (سورة الزمر - ۲۲ آيت).

ترجمه:

آيا پس هر هغه څوک چي پرانيستلي او ارته کړې وي الله سينه د ده (قبول د) اسلام ته پس وي به دی په رڼا (د هدايت) له (طرفه) د رب خپل.

بل ځای داسي فرمايي:

نُّورٌ عَلَىٰ نُورٍ يَهْدِى ٱللَّهُ لِنُورِهِۦ مَن يَشَآءُ (سورة النور - ۳۵ آيت).

ترجمه:

رڼا د (ډېوې) پر رڼا لاره ښيي الله ﷻ نور خپل ته هغه چا ته چي

bawar.net

اراده وفرمايي.

د عقل او فطرت نور، د وحي او نبوت نور، پر رڼا باندي رڼا! اسلام هيڅکله نه غواړي چي انسان په توره تياره کي لار ووهي او روان سي، يا د نورو انسانانو په دماغ فکر وکړي اسلام هيڅکله نه غواړي چي يو عاقل مسلمان دي د نجوم ګرانو، فال کتونکو يا شعبده بازانو په خبرو او وړاندوينو پسې روان سي او باور دي په وکړي. اسلام د مسلمان نه غواړي چي دين په دليل، برهان او علم سره وپېژني او په لارښوونو او تعليماتو يې پوره پوهه ولري او هر کله چي د يو مسئلې په اړه په شک او ترديد کي واقع سي هغه ته حق ورکوي چي د هغې مسئلې په اړه ښه معلومات ترلاسه کړي او دليل يې وغواړي تر څو زړه يې آرام او مطمئن سي. مسلمان دا حق لري چي د احکامو دلايل وپېژني او په اصل کي د علم معنی هم همدا ده چي انسان حق او حقيقت د دليل سره وپېژني. د دغو مسائلو پېژندل په ځانګړې ډول په اوس عصر کي ډېر مهم او ضروري دي، ځکه چي هڅي او کوښښونه کېږي تر څو مسلمانان د خپلو ديني تعليماتو او مفاهيمو څخه ناپوه او جاهل پاته سي. د کومي مودې نه چي مسلمانانو خپل يووالی، سياسي قدرت، شان او شوکت، علم او معرفت، تقوا او پرهېزګاري له لاسه ورکړې او د کرغېړن استعمار په دام کي راګير دي، فقر او غربت يې ملا ماته کړې، په ديني او دنياوي چارو کي وروسته پاته سوي، نو په اکثره اسلامي هېوادو کي درسي کتابونه، مدارس او مکتبونه داسي جوړ او عيارېږي چي مسلمان نسل د خپل ديني تعليماتو او لارښوونو نه ليري وساتي او يوازي د اسلام ظواهر هغه هم تحريف سوي ظواهر هغوی ته ورزده کړي.

څه موده وړاندي يا اوس هم چي مسلمان ځوان به د کوم مکتب او مدرسې نه فارغ سو نو د اسلام د تاريخ نه به يې د اروپا تاريخ ډېر ښه

bawar.net

پېژانده، ناپلئون به يې د حضرت محمد ﷺ څخه ډېر ښه پېژانده او د اسلامي دعوت د دوران په پرتله به يې د فرانسې د انقلاب په اړه ښه معلومات درلودل.

نبوي سيرت به يې يو څو صفحې په ځغاسته او سرسري توګه مطالعه کاوه، د خدای ﷻ د رسول ﷺ د اصحابو او يارانو په اړه به يې يوازې د هغوی د اختلافاتو او شخړو تاريخي پېښې لوستلې.

د محمد ﷺ د پاک او سپېڅلي شخصيت د مختلفو اړخونو په اړه يې هيڅ معلومات نه درلودل، نه پوهېدل چې رسول الله ﷺ څه شي نړيوالو ته وړاندې کړي وه؟ هغه نسل چې په نبوي ﷺ مدرسه کي روزل سوي وه څه ځانګړتياوې يې لرلې؟ څه دليل و چې هغوی دې تر نورو په دنيا او آخرت کي غوره او کامياب سي؟ اسلامي تمدن څنګه رامنځته سو؟ او داسې نور (په خواشيني سره نن هم د اکثره مسلمان ځوانانو او د هغو چې لوړې زده کړې يې په لوېديځو پوهنتونو کي کړې دي همدا حال دئ. د اسلام د تمدن، تاريخ، فلسفې او نورو په اړه لږ معلومات لري او که يې لري هم هغه يې د مستشرقينو (ختيځ پېژندونکو) د اثارو او ليکنو نه زده کړي دي چې هغه د مختلفو دلايلو په اساس هيڅکله د غرض نه خالي نه دي، ژباړن).

اسلام په داسې وخت او عصر کي هغه رباني، انساني او اخلاقي تمدن منځته راوړ چې لوېديځوال د علم، پوهې او تمدن نه خبر هم نه وه. نو ځکه بايد اسلام ښه درک کړو بايد د هغه نه ګرد او غبار ليرې کړو. دين بايد ښه زده کړو تر څو لومړی خپله د دليل سره عمل په وکړو او بيا يې نورو ته ور زده کړو. د ګمراهانو او لار ورکو شبهات او شکونه چې په اسلام کي يې پيدا کړي او باطل يې د حق سره ګډ کړي واضح او رسوا کړو. هغه تهمتونه او درواغ چې په ناحقه پر اسلام، د خدای ﷻ پر پيغمبر ﷺ او پر اسلامي امت تړل سوي او ويل سوي رسوا او بيرته

bawar.net

يې دوی ته ور رد کړو.

حتماً بايد د دين، پيغمبر ﷺ، قرآن، شريعت، تاريخ، اسلامي فرهنګ (کلتور) او امت نه دغه ډول کامل او اصولي شناخت او پيژندنه ولرو تر څو د حق حقوالی او د باطل باطلوالی د اسلام د دښمنانو د هيلو او تمې خلاف روښانه او څرګند کړو.

که څه هم موږ مسلمانانو ته دا نه ښايي چي د اسلام د حقانيت د اثبات په اړه يوازي دفاعي دريځ ولرو بلکي بايد اسلام ښه وپيژنو او بيا د دښمنانو سره د دليل او برهان په زور مقابله وکړو او تهاجمي بڼه ځان ته غوره کړو. ځکه چي اصلي دلايل زموږ او ستاسي په اختيار کي دي، په دې معنی چي موږ بايد يوازي د درواغجنانو، د جالانو او هغو شيطان صفتو لکه ختيځ پيژندونکي (مستشرقين)، د تحريف سوي مسحيت مبلغانو، مارکسيستانو (کمونستانو) او نورو کفري مزدورانو د تهمتو د رد له پاره يوازي دفاع ونه کړو، بلکي د دوی د غلطو، خرافي او ناوړه عقيدو څخه پرده پورته کړو او د دوی ناپوهي، ګمراهي، بېهوده ګي، د اسلام سره د دوی بغض او کينه او د اسلام او مسلمانانو په اړه د دوی غلط، بې انصافه او غير عادلانه قضاوتونه په خپل دليل او عمل سره ټول بشريت ته واضح او روښانه کړو او د خپلي عقيدې پاکوالی، حقانيت او عظمت ورته څرګند کړو.

﴿وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ ۝١٩ وَلَا الظُّلُمَاتُ وَلَا النُّورُ ۝٢٠﴾

(سورة فاطر، ۱۹ - ۲۰ آيتونه).

ترجمه:

او نه برابريږي سره ړوند (کافر) او ليدونکی (مومن) او نه تياره (باطل) او نه رڼا (حق).

نو په دې اساس بايد نور خلک خپل دين ته دعوت کړو، خو دغه

bawar.net

بلنه او دعوت بايد پر سم درک او فهم بناء وي، ځکه دعوتګر بايد د پراخ علم او وسيع فکر په اساس نور خپل دين ته دعوت کړي. نو راسئ چي لوستلو او مطالعې ته مخه کړو. ځکه دا امت د لوستلو او مطالعې امت دئ. لومړنی مبارک آيت چي د خدای ﷻ پر استازي محمد ﷺ باندي نازل سو د (اقرأ) يعنی ولوله لفظ يې په سر کي و او دوهم ځل بيا تکرار سو الله تبارک و تعالی فرمايي:

ﭐقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ۝١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ۝٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ۝٣ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ۝٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ۝٥

(سورة العلق، ۱-۵ آيتونه).

ترجمه:

ولوله (اې محمده) په نامه د رب خپل هغه ذات چي پيدا يې کړ انسان له ترل سويو ټوټه وينې نه ولوله او ستا رب ډېر زيات کريم دئ هغه ذات چي ښوولی يې دئ په قلم سره انسان ته هغه څه چي هغه نه پرې پوهېده.

هغه امت چي د کتاب نوم يې قرآن[1] دئ په خواشيني سره نن لوستل او مطالعه نه کوي حتی اکثريت يې د لوستلو نه بې برخي هم دي.

په تېرو ختونو کي مسلمانانو دومره لوستل کول، چي حتی د ناروغۍ او مرګ په بستر کي يې د مطالعې او لوستلو نه لاس نه اخيست او دا به يې ويل: بېرېږم چي د ژوند او عمر يوه ورځ مي داسي تېره سي چي په هغه کي مي هيڅ نه وي زده کړي. هغوی په زړښت او بوډاتوب کي هم د علم او پوهي د طلب څخه لاس نه اخيست کله چي به د

---

[1] قرآن د لوستلو په معنی هم دئ (ژباړن).

bawar.net

هغوی نه وپوښتل سوه، چي تر کله غواړې چي علم لاس ته راوړې؟ په جواب کي به يې وويل: تر څو چي ژوندي يو. په رواياتو کي راغلي دي:

اطلب العلم من المهد الی الحد!

يعني د زانګو نه تر قبره پوري د علم په لټه کي اوسه!

د يو عالم څخه وپوښتل سوه، چي آيا زاړه او د ډېر عمر خاوندان هم بايد علم حاصل کړي؟ هغه په جواب کي وويل: هر کله چي جهل او ناپوهي د ده په زيان او ضرر تمامېږي نو علم او پوهه يې د ګټي او برياليتوب لامل ګرځي.

خو اوس داسي زمانه راغلې، چي د مسلمانانو اکثريت د لوستلو سره هيڅ آشنايي نه لري د کتاب سره هيڅ ډول مينه او علاقه نه لري چي دا ډېر د افسوس ځای دئ. نو اړينه او ضروري ده چي د دې ستونزي او معضلې په وړاندي بيرغ اوچت کړو او د دې امت تګلوري بل او سم لور ته واړوو، تر څو لوستلو او مطالعې ته مخه کړي، علم او پوهه تر لاسه کړي او په دې لاره کي انتهايي هڅه وکړي. وخت يې بې ځايه تلف او ضايع نه سي، استعدادونه او وړتياوي يې په ګټورو کارونو کي بوختي او په کار ولوېږي.

پخوانيو علماوو ويلي دي: علم هيڅکله خپله يوه برخه تاسي ته نه درکوي تر څو تاسي خپل وجود هغه ته ورنه کړئ، يعني تر څو ټوله هڅي، استعداد او وخت د علم د زده کړي له پاره وقف نه کړئ د علم د حقايقو نه به برخمن نه سئ.

وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴿۸۵﴾ (سورة الاسراء – ۸۵ آيت).

ترجمه:

او نه ده درکړل سوې تاسي ته (برخه) د علم (پوهي) څخه مګر لږ.

bawar.net

خو آيا يوازي د علم لاس ته راوړل کافي دي؟ آيا دا چي زده کړه وکړو او عالمان سو، مسئوليتونه مو پای ته ورسېدل؟ آيا اسلام زموږ نه يوازي دا غواړي چي فقط فيلسوف، د دين عالم او په دين کي متخصص واوسو؟ او د دين سره مو رابطه او اړيکه يوازي ذهني وي؟ په جواب کي بايد ووايو، چي نه هيڅکله نه.

bawar.net

## دوهم مسئوليت

# په اسلام او علم باندي عمل کول

بلې ! اسلام هيڅکله دا نه مني چي مسلمان دي يوازي ديني معلومات تر لاسه کړي، عالي تحصيلات دي تر سره کړي، عالم دي سي او بيا دي دا ګمان وکړي چي ديني مسئوليتونه يې اداء کړي هيڅکله نه.

اسلام داسي علم غواړي چي د عمل په مېوه ښکلى او ښايسته وي، نه داسي علم چي ثمره او حاصل يې يوازي بحث او جدل وي، اسلام داسي علم او پوهه غواړي چي پر زړونو او دماغ اغېز او اثر ولري، داسي علم چي د مسلمان اراده او وجدان په حرکت او خوځښت راولي، هغه علم چي په زړونو کي د لوی خدای ﷻ نه ډار او وېره پيدا کړي.

د داسي عالمانو په اړه لوی خدای ﷻ داسي فرمايي :

إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُاْ (سورة فاطر – ۲۸ آيت).

ترجمه :

بېشکه هم دا خبره ده، چي وېرېږي له الله څخه له بندګانو د دغه (الله) پوهنده عالمان.

داسي علم او معرفت چي انسان تقوا او پرهېزګارۍ ته چمتو کړي، زموږ پيغمبر ﷺ د داسي علم نه چي هيڅ ګټه نه لري و خدای ﷻ ته پناه وړي:

bawar.net

اللهم انی اعوذبک من علم لا ینفع، و من قلب لا یخشع و من عمل لا یرفع و من دعوة لا یستجاب لها[۱].

ترجمه:

الهي د داسي علم نه چي ګټه نه لري، د داسي زړه نه چي عاجزي او خشوع نه لري، د داسي عمل نه چي قبول نه سي او د داسي دعا نه چي مستجابه نه سي په تا پناه نیسم.

کله چي حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه د منافق عالم نه و خدای جل جلاله ته پناه وړل د ده نه وپوښتل سول، چي: څنګه کېدای سي چي منافق دي عالم وي؟ هغه وفرمایل: کله چي په ژبه عالم او پوه وي او په زړه جاهل او ناپوهه وي.

روایت دئ چي علم پر دوه ډوله دئ: یو هغه علم چي پر ژبه او خوله جاري وي او هغه د لوی خدای جل جلاله دلیل او حجت دئ د آدم علیه السلام پر زامنو (انسانانو) او بل هغه علم دئ چي په زړه کي وي چي دا ډېر ګټور علم دئ.

الله جل جلاله په قرآنکریم کي د هغو کسانو په اړه چي پخپل علم عمل نه کوي د حیواناتو مثالونه راوړي دي، الله تعالی فرمایي:

مَثَلُ ٱلَّذِينَ حُمِّلُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ ٱلْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًۢا ۚ بِئْسَ مَثَلُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ۚ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥﴾ (سورة الجمعه - ۵ آیت).

ترجمه:

مثل د هغو کسانو چي مکلف کړل سوي وو، هغوی په تورات

---

[۱] د امام مسلم په روایت

bawar.net

(چي عمل پرې وکړي) بيا بار نه کړ هغوی هغه (تورات يعنى عمل يې پرې ونه کړ مثال د دغو کسانو چي علماء د يهودو دي) په مثل د خره دي چي په شا وړي کتابونه او نفع ترې نه سي اخيستلای په دې مثل د قوم هغه (کسانو) چي دروغ وايي دوی په دلايلو (د قدرت) د الله او الله نه ښيي سمه لار قوم ظالمانو ته (کافرانو ته).

او فرمايي:

وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ ٱلَّذِيٓ ءَاتَيۡنَٰهُ ءَايَٰتِنَا فَٱنسَلَخَ مِنۡهَا فَأَتۡبَعَهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ فَكَانَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ ﴿١٧٥﴾ وَلَوۡ شِئۡنَا لَرَفَعۡنَٰهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُۥٓ أَخۡلَدَ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُۚ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلۡكَلۡبِ إِن تَحۡمِلۡ عَلَيۡهِ يَلۡهَثۡ أَوۡ تَتۡرُكۡهُ يَلۡهَثۚ ذَّٰلِكَ مَثَلُ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَاۚ فَٱقۡصُصِ ٱلۡقَصَصَ لَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٧٦﴾ (سورة الاعراف، ١٧٥-١٧٦ آيتونه).

ترجمه:

او ولوله (اې پيغمبره) پر دغو (جهودانو يا قوم خپل) خبر او حال د هغه (سړي) چي ورکړی و موږ هغه ته (علم) د آيتونو خپلو نو راووت (او بېزار سو په کفر او اعراض سره) له هغو آيتونو، نو ورپسې سو شيطان (او تېر يې ايست) نو سو له ګمراهانو او که اراده فرمايلې وای موږ نو خامخا پورته کړی به وای موږ دی په دې آيتونو سره (مقام ابرار ته) وليکن ده مينه وکړه مځکي ته او متابعت يې وکړ د هوا خپلي نو مثال د ده په شان د سپي دئ، چي که حمله پرې وکړې (يا يې چغه کړې) نو ژبه راباسي او غاپي او که يې پرېږدې (هم) ژبه راباسي او غاپي، دغه مثال د هغه قوم دئ چي دوی نسبت د دروغو کوي آيتونو زموږ ته

bawar.net

نو بيان کړ (دوی) ته دغه کيسې ښايي چي دوی فکر وکړي.

دا د هغو کسانو داستان و، چي په خپل علم يې عمل نه کاوه، مګر مسلمان لمونځ او د لمانځه احکام زده کوي او بيا لمونځ په سمه توګه پر خپل وخت اداء کوي. مسلمان عاجزي، خاکساري، رښتينوالي، صداقت، سخا او داسي نور زده کوي او بيا په دغو لارو باندي پوره عمل کوي، د زکات احکام زده کوي او د خپلو مالونو زکات ورکوي، حلال او حرام په سمه توګه پېژني او بيا د حرامو څخه ځان ساتي او د حلالو نه ګټه او فايده اخلي. همدا مفيد او ګټور علم دئ. کله چي يو مسلمان ځان په اسلامي لارښوونو او اسلامي اخلاقو سمبال، ښکلی او د ژوندی نمونې په توګه د خلکو په منځ کي څرګند سي نو په دې وخت کي د خلکو پام او توجه ده ته ور اوړي نو خلک داسي وايي: واقعاً چي اسلامي لارښووني، آداب او اخلاق ډېر ښکلي او د پيروی وړ دي. دا خبره ځکه کوي چي عملاً او په خپلو سترګوويني چي يو مسلمان د زړه له کومي ځان په اسلامي لارښوونو او اخلاقو سمبال کړی دئ، نو خلک حتماً د ده د اخلاقو او د ده د دين څخه اغېزمن کېږي او اسلام هم په دغه ډول په نړۍ کي خپور سوی دئ، اسلام په جذابو او شاعرانه ويناوو او مقالو د نړۍ و هر ګوټ ته نه دئ رسېدلی. بلکي د مسلمانانو اسلامي کړنلاري او اخلاقو له لاري و ټولي نړۍ ته رسېدلی دئ.

اسلام د تاريخ په اوږدو کي د نورو اديانو غوندي د حرفه يي مبلغانو درلودونکی نه و، ډېر هغه کسان چي د اسلام په تبليغ او خپرېدو کي يې ونډه اخيستې عادي خلک وه لکه سوداګر، صنعت کاران او داسي نور. اسلام د حضرت موت د سوداګرانو په واسطه اندونيزيا او ډېرو نورو هيوادونو ته ور داخل سو. په نژدې تېرو وختونو کي د جنوبي کوريا يو زيات شمېر خلک د مسلمانانو د ښک چلند تر

bawar.net

اغېزې او تأثير لاندي راغلل او اسلام يې ومانه، ترکي مسلمان سرتېرو هم د کوريا په جګړه کي برخه درلود دل کله چي به د لمانځه وخت سو، دغو مسلمان سرتېرو به خپل ټول کارونه پرېښوول د اوداسه او نظافت وروسته به په ډېر نظم صف صف په ادب او عاجزي د جماعت پر لمانځه ودرېدل، کله چي نورو سرتېرو دغه صحنه وليدل، ډېر اغېزمن سول او پوښتنه يې وکړل : تاسي څوک ياست؟ هغوی په جواب کي ورته وويل : موږ مسلمانان يو. بيا يې وپوښتل : اسلام څه شي دئ؟ هغوی هم د خپلي پوهي په اندازه اسلام ور معرفي کړ، چي په دې توګه په زرګونو خلکو د اسلام سپېڅلی دين ومانه. اسلام يوازي د نېکو، ښو او ژونديو عملي نمونو او مثالونو په واسطه خپرېږي. نور خلک چي کله د اسلام څېره د مسلمانانو په نېکو اخلاقو او ښه چلند کي ويني، نو د دوی په خاطر د اسلام سره د هغوی مينه پيدا کېږي. په تېرو وختونو کي اسلام په دغه ډول په نړيوالو کي خپور او نشر سوی دئ. لوی خنډ او مشکل چي نن ورځ د اسلام د خپرېدو په مخ کي پروت دئ، هغه د نني مسلمانانو د بد اخلاقۍ او په اسلام باندي د نه عمل کولو په خاطر دئ، د اسلام څېره په کتابونو کي ډېره ښکلې او سپېڅلې ده، خو کله چي نور ملتونه او خلک د اوسنيو مسلمانانو بدو کړو او هر اړخيز بد حال ته ګوري نو داسي وايي :

ولي اسلام خپلو پيروانو ته هيڅ ګټه او فايده نه ده رسولې؟ ولي اسلام د خپلو پيروانو په ژوند کي هيڅ ډول بدلون نه دئ راوستی؟ ولي اسلام پر خپلو پيرانو اغېزمن نه دئ؟ او نور...

دا په داسي حال کي چي :

اسلام د نظم او انضباط امر کړی خو اسلامي هيوادونه په بې نظمي او ګډوډي کي د نورو له پاره مثل ګرځېدلي. اسلام د يووالي، همکارۍ او ورور ولۍ امر کړی خو اسلامي هيوادونه تيت و پرک او

bawar.net

ټوټه ټوټه دي. (حتى د هيوادونو په دننه کي په بې اتفاقى، قوم پالني او ګوند پالني اخته دي او په دې لار کي د سخت او ناروا تعصب نه کار اخلي، ژباړن).

اسلام د ژوند په هر ډګر کي په قوت، طاقت او توان لرلو سره امر کړی، يو خو مسلمانانو تر ټولو ضعيف او ناتوانه دي، دا ولي؟ اسلام د هر ګټور علم، پر مختګ او ترقى په لاس ته راوړلو امر کړی دئ، خو اسلامي هيوادونه د بې علمى، بې سوادى، بېوزلى، فقر او وروسته پاته والي ښې بېلګي او نمونې دي.

يو لوېديځوال چي د اسلامي کتابونو له لاري د اسلام سره آشنا او مسلمان سوی و، ډېره هيله يې وه چي اسلام عملاً د مسلمانانو په ژوند کي ووينې، خو کله چي يو شمېر اسلامي هيوادونو او بيا يې حج ته سفر وکړ کومي بې نظمى، بد اخلاقى او د حيرانتيا وړ کارونه يې د حج او نورو سفرونو په دوران کي وليدل نو داسي يې وويل:

الهي زه ډېر شکر ګزاريم چي د اسلامي هيوادونو د سفر مخکي دي د اسلام په دين مشرف کړم. يعني که چيري ما تر اسلام راوړلو مخکي د مسلمانانو دغه اوسنى حال او اعمال ليدلى وای هيڅکله به مسلمان سوی نه وای.

دا په داسي حال کي چي لوی خدای ﷻ د حج د اداينې په اړه داسي فرمايي:

فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي ٱلْحَجِّ (سورة البقره - ۱۹۷ آيت).

ترجمه:

نو نه دئ جايز کوروالى د ښځو سره او نه ګناه کول او نه جنګ او جګړې کول د حج په ورځو کي.

bawar.net

د دې له پاره چې د اسلام ښکلې او سپېځلې څېره لکه داره نه سي نو د اسلامي ټولني هر غړی او هر ځوان بايد د اسلام عملي نمونه او د اسلامي امت ژوندي او فعال غړي وي او بايد قرآن کريم په خپلو نېکو اعمالو تفسير کړو. په همدې خاطر موږ پر کار او عمل ټينګار کوو. هغه عمل چې نېک او خالص وي. اسلام زموږ څخه غواړي چې د الله تعالی ﷻ فرائض او واجبات پر ځای کړو او د منهياتو او منع سويو شيانو څخه پرهېز او ډډه وکړو او ټول هغه حقوق او واجبات چې د ځان او نورو په وړاندي يې پرې مکلف کړي يو، مراعات او پر ځای کړو، مثلاً: لوی خدای ﷻ د خدای پيغمبر ﷺ، ټولنه، کورنی، مېلمه، خپل نفس او جسم او نور هر يو پر موږ ځانګړي حقوق لري، چې بايد د هر يوه حقوق اداء او پر ځای کړو. په ژوندانه کي يو ډول توازن او هماهنګي وجود لري، چې مسلمان بايد د هغه له پاره هڅه وکړي (تر څو د ژوندانه په جريان کي د هر چا حق پر ځای او ژوند يې ښه تنظيم او برابر سي)، ځکه اسلام د منظم او برنامې درلودونکي ژوند غوښتونکی دئ او د هغه په وسيله د مسلمان ټول رفتار او کړنه صحيح کېږي او ښه کړنه او عمل په اسلام د سمي پوهي ثمره او پايله ده.

د مختلفو ګروو او افرادو کړني او اعمال په مختلفو مراحلو کي توپير لري، لکه يو متعلم او طالب العلم چې مرحله په مرحله مخ په وړاندي ځي، مثلاً د ښوونځي نه و پوهنتون ته لوړ ځي، نو اعمال هم همدا ډول مخ په وړاندي ځي، ترقي کوي او پر يوه حال باقي نه پاته کېږي.

د نېکو اعمالو په اړه شايد يو مسلمان په ابتداء کي په فرائضو او واجباتو بسنه او اکتفاء وکړي. خو وروسته سنت او مستحبات هم پر ځای کوي او د هغه نه وروسته د شپې لمونځ (تهجد) هم اداء کوي په همدې شکل پرمختګ کوي. د منهياتو په مورد کي هم همداسي وي

bawar.net

لومړی د محرماتو او حرامو څخه ډډه او پرهېز کوي وروسته د شبهاتو نه ځان ژغوري او د هغه نه وروسته د مکروهاتو نه ځان ساتي چي په آخر کي د رښتينو او صادقو پرهېزګارانو په قطار کي راځي (او بيا د هر کار او هري خبري په کولو کي د ډېر احتياط نه کار اخلي، په دې خاطر چي د ګناه مرتکب نه سي).

او بل دا چي يو مسلمان هر وخت بايد ښه او نېک اهداف او موخي ولري او د خدای ﷻ سره ډېر رښتينی او صادق واوسي. دا ځکه که چيري اهداف او نيتونه سم وي نو په اطمينان سره ويلای سو چي د خوځښت او حرکت تګ لوری به هم صاف او روښانه وي.

bawar.net

## دريم مسئوليت

# و اسلام ته دعوت او بلنه

د هر مسلمان دريم مسئوليت د خداى ﷻ دين ته د دعوت او بلني دنده او مسئوليت دئ. يوازي د يو مسلمان د عمل سموالى کافي نه دئ، بلکي اسلام د يو مسلمان نه غواړي چي علاوه پر خپل ځان نور هم اصلاح کړي او خلک سمي لاري ته راوبولي په همدې خاطر الله تعالى ﷻ د (عصر) په مبارکه سوره کي د تباهۍ او زيان څخه د انسان د خلاصون يو شرط دا هم بولي، چي هغه نورو ته د حق او صبر توصيه وکړي او د خداى ﷻ او دين ته يې راوبولي او د نورو نه هم همدا توصيه قبوله کړي:

وَٱلْعَصْرِ ﴿١﴾ إِنَّ ٱلْإِنسَـٰنَ لَفِى خُسْرٍ ﴿٢﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلْحَقِّ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلصَّبْرِ ﴿٣﴾ (سورة العصر، ١-٣ آيتونه).

ترجمه:

قسم په زمان، يقيناً چي زيان کي دئ انسان، مګر هغه چي ايمان يې راوړى او صالح اعمال يې کړي او سپارښتنه يې د حق يوه بل ته کړې او يوه بل ته يې د صبر توصيه کړې.

مسلمان بايد يوازي په ايمان او صالح عمل بسنه ونه کړي، بلکي حق بايد نورو ته ورسوي او د نورو څخه يې هم قبول کړي. يعني دغه

bawar.net

کار (د حق او صبر توصيه) بايد برابره او دوې سويې وي، ځکه چي د (تواصي) معنی هم همدا ده. نو په دې دليل بايد هر مسلمان خپل ځان د حق په لاره کي آماده او چمتو کړي او بايد خپل ځان په دې لاره کي په صبر او حوصله سره عادت کړي. په همدې خاطر الله تعالی ﷻ د حق د رسولو او صبر لارښوونه يو ځای کړېده. تر څو دغه دواړه (په حق سره توصيه او صبر) هر وخت يو ځای وي.

حضرت لقمان حکيم خپل زوی ته د نصيحت په وخت کي داسي وايي:

يَٰبُنَيَّ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ وَأۡمُرۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱنۡهَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَۖ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ﴿١٧﴾ (سورة لقمان - ۱۷ آيت).

ترجمه:

اې زما زويه! قايم کړه لمونځ او حکم کوه د نېکۍ او منع کوه له بدۍ او صبر کوه پر هغه څه چي تا ته رسېږي. بېشکه دا (صبر کول) کار ډېر د همت له کارونو نه دئ.

صبر او حوصله په ځانګړې توګه په اوسني وخت کي ډېر اړين او ضروري دي، الله تبارک وتعالی پيغمبر ﷺ ته د نبوت د کار په پيل کي داسي فرمايي:

إِنَّا سَنُلۡقِي عَلَيۡكَ قَوۡلٗا ثَقِيلًا ﴿٥﴾ (سورة المزمل - ۵ آيت).

ترجمه:

بېشکه موږ غور ځوونکي (اچوونکي) يو پر تا باندي قول درونډ (قرآن).

د خدای ﷻ لاري ته دعوت او بلنه ډېر سخت او ستونزمن کار دئ، او موږ او تاسي د دې ستونزمن کار وارثان يو (چي خامخا به دې

bawar.net

کار ته اوړه ورکوو) او په اوسني وخت کي د دعوت کار د مختلفو خنډونو او موانعو په اساس ډېر ستونزمن دي هغه لکه: د خلکو دين ته شا کول، د دنيا سره افراطي مينه، د يقين لږوالی، د آخرت هېرېدل يا آخرت ته نه پاملرنه، د خير په لار کي د ډېرو موانعو شتون او د ګمراه کوونکو شيانو ډېرېدل او نور ...

نو دعوتګران بايد ډېرو سختيو ته ځان چمتو او ډېري ستونزي وګالي. ډېر ځلي يو دعوتګر په دې لاره کي د مختلفو خنډونو سره مخ کېږي حتی کله کله په خپله کورنۍ کي هم امکان لري چي پلار، ورور، ملګری او نږدې دوستان د ده د لاري خنډ وګرځي او په دې لاره کي يې اراده او عزم ورسست او کمزوری کړي او ورته ووايي:

ته په دې مسائلو څه کار لرې؟ آيا غواړې چي زنداني دي کړي؟ دادي خوښه ده چي تکليف او شکنجه در کړي؟ او آيا غواړې چي دا بلا او هغه بلا دي پر سر نازله کړي؟ او داسي نوري خبري او که دعوتګر ښځينه وي هغه د شرعي حجاب او شرعي لباس په اغوستلو ملامتوي، ملنډې پرې وهي (وروسته پاته او غير مترقي يې نوموي).

تېر کال مي يوه پېغله وليدل چي په پوړنی (څادر) يې خپل سر او ګرېوان پېچلي او اوږدې شرعي جامې يې اغوستې وې، خو سږ کال مي وليدل چي د دوستانو لکه مور، عمه، خاله، د خاله لور، د عمه لور او نورو د فشار په نتيجه کي يې شرعي لباس غورځولی او بې حجابه سوې وه، دا ځکه چي هغوی د دې په شرعي حجاب او لباس ملنډې وهلي وې!!!

خو مومني او د کلکي ارادې څښتناني ښځي نه يوازي دا فشار ته تن نه ږدي بلکي هر څومره چي په دې اړه فشار ډېر سي هغوی نور هم د الهي حدودو او حقوقو د مراعتولو په خاطر ټينګار کوي خو په خواشيني سره د دغي مسلماني خور ايمان او اراده ضعيفه او کمزورې

bawar.net

سول او د دغو باطلو او فساد اچوونکو خبرو تر اغيزې لاندې راغلل.

په اوسني وخت کي ډېر عوامل وجود لري، چي خلک ګمراه کوي او هغوی د خپل دين او ايمان څخه ليري کوي، په يوه حديث کي يې د پيغمبر ﷺ نه روايت کړی چي فرمايلي يې دي:

ان القابض على دينه كالقابض على الجمر!

يعني (په آخره زمانه کي) هغه څوک چي پر خپل دين ټينګ وي داسي وي لکه د اور سکروټه چي يې په لاس کي وي.

په اوسني وخت کي چي د فساد او فتنې وخت دئ، د نېکو او پرهېزګاره خلکو اجر او ثواب د پنځوسو تنو صحابه وو سره برابر دئ، په دې اړه د رسول الله ﷺ نه وپوښتل سوه، چي: پنځوس تنه زموږ او که د دوی؟ آنحضرت ﷺ ورته وويل: ستاسي پنځوس تنه او په بل روايت کي راغلي دي، چي پيغمبر ﷺ خپلو ملګرو ته وفرمايل، چي: تاسي نېک عمله ملګري لرئ په داسي حال کي چي (د آخري زمانې خلک) به نېک عمله ملګري نه لري. نو پورته خبرو ته په پام سره بايد د موجوده سياسي، ټولنيزو او کورنيو فشارونو سره سره په کلک ايمان او اراده اسلام ته ملتزم او وفاداره واوسو او نور خلک هم ورته دعوت کړو. بايد د دغو ټولو ستونزو او مشکلاتو په وړاندي ودرېږو، بايد خپلو ځانونو ته قوت او ځواک ورکړو، ځکه چي هيڅ داسي دعوت نسته چي مقاومت او مېړانې ته اړتيا ونه لري، هر (الهي او حق) دعوت دښمنان او مقاومت کوونکي لري الله تعالى فرمايي:

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَاطِينَ الْإِنسِ وَالْجِنِّ (سورة الانعام - ۱۱۲ آيت).

ترجمه:

او همداسي ګرځولي (پيدا کړي) وه موږ هر نبي ته دښمن

bawar.net

شيطانان د انس (انسانانو) او د جن (پيريانو).

او فرمايي:

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ ٱلْمُجْرِمِينَ (سورة الفرقان - ۳۱ آيت).

ترجمه:

او همداسي ګرځولي (پيدا کړي) وه موږ هر نبي ته دښمنان له ګنهکارانو (مجرمينو) نه.

الله تعالی ﷻ حضرت آدم عليه السلام پيدا کړی، شيطان يې هم ورسره پيدا کړی. الله تعالی ﷻ حضرت ابراهيم عليه السلام پيدا کړی، نمرود يې هم ورسره پيدا کړی. الله تعالی ﷻ موسی عليه السلام -- پيدا کړی فرعون يې هم ورسره پيدا کړی او الله تعالی ﷻ حضرت محمد ﷺ پيدا کړی نو ابو جهل يې هم ورسره پيدا کړی دئ.

د فرعون، نمرود او ابوجهل غوندي کسان په هره زمانه کي موجود دي، که څه هم نومونه او لقبونه يې توپير لري. خو داسي کسان خورا ډېر دي يوازي يې نوم بدل وي. په اوسني وخت کي چي د نويو ايډيالوژيو (عقايدو) عصر يې بولي، يهوديان، مسيحيان (عيسويان)، بهايان، کمونستان او قاديانيان هريو ځانګړي پيروان او بلونکي لري، نو په دې صورت کي اسلام بايد دعوتګران ونه لري؟

په داسي حال کي چي حق او کامل دين دئ او په خپل طبيعت کي د دعوت او نشرولو دين دئ.

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا وَقَالَ إِنَّنِى مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿٣٣﴾ (سورة فصلت - ۳۳ آيت).

ترجمه:

او د چا ډېره ښه ده خبره له هغه چا نه چي دعوت يې وکړل د الله لوري ته

bawar.net

او عمل يې وکړ نېک او ويې ويل بېشکه زه د مسلمانانو نه يم.

په همدې دليل موږ وايو چي مسلمان ځوان بايد خپل ځان د الله تعالى لوري ته د دعوت له پاره چمتو او تربيه کړي او د دې مسئوليت نه بل هيڅ لوړ او غوره مسئوليت نسته، ځکه چي دا د الله تعالى د پيغمبرانو د مسئوليت دوام او د هغوى لار ده.

دا مسئوليت قبلونه د دې لامل ګرځي چي مسئوليت منونکي شخص پر الهي رسي منګولي ټينګي کړي. ځکه يو کس چي نور خلک اسلام ته رابولي نو خپله هم هڅه کوي چي د هغو مسائلو په اړه ښه عملي نمونه وګرځي کوم چي دى نور خلک ورته دعوتوي او په دې خبره يې قانع کوي چي هغه اسلامي احکامو او لارښوونو ته پابند واوسي.

bawar.net

## څلورم مسئوليت

# د دعوت په کار کي همکاري او ورورولي

هغه ځوانان چي د دين سمه او صحيح پوهه او پر هغه باندي د کلک او قوي ايمان درلودل او الهي دين ته د نورو خلکو دعوتول د ځان تر ټولو لوی او لومړی مسئوليت ګڼي هغوی ته لازمه او ضروري ده چي يو تر بله مرسته او همکاري وکړي او په خپل منځ کي نږدې اړيکي ولري، تر څو تقويه او ځواکمن سي. په اسلام کي په انفرادي شکل کار نسته، ځکه چي انفرادي او يوازي کار کفايت نه کوي. ټول کار و نه بايد په ټوليزه او يو ځايي توګه تر سره سي، د ګډ کار څخه مو موخه دا ده چي موږ بايد يو تر بله د اخوت او ورورولی اړيکي ولرو، زموږ او ستاسي يو تر بله همکاري، ليدل کتل او ناسته ولاړه بايد ټول د خدای ﷻ له پاره وي. په مشترکو او ګډو مسائلو کي بايد يو تر بله تفاهم او پوهاوي ته ورسېږو که څه هم د دعوت په لار کي په مختلفو ډلو او ټولنو پوري تړلي يو. که ګډه همکاري او نږدې ارتباطات و نه لرو نو هيڅ کار به مخ په وړاندي ولاړ نه سي او متل دئ چي د يو له لاسه ټک نه خېژي. (او بل دا چي اوس فساد اجتماعي او عام دئ، نو دا کار اجتماعي اصلاح او کار ته اړتيا لري د اجتماعي فساد مخه په يوازي او انفرادي شکل نه نيول کېږي، ژباړن).

الله تبارک وتعالی فرمايي :

bawar.net

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍۚ إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُن فِتْنَةٌ فِي ٱلْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ ﴿٧٣﴾ (سورة الانفال - ٧٣ آيت).

ترجمه :

او هغه کسان چي کافران سوي دي ځيني د دوی دوستان دي د ځينو نورو (په امداد کي يو له بله سره)، که ونه کړي تاسي دا (دوستي په خپلو منځونو کي او دښمني له کفارو سره) نو پيدا به سي (لويه فتنه په مځکه کي او (خپور به سي) فساد لوی.

کافران يو د بل مرستي ته ورداني او يو د بل لاسنيوی کوي مونږ (مسلمانان) هم بايد يو د بل مرستي او همکاری ته را وړاندي سو. نږدې او د ورورولی اړيکي ولرو !

داسي نه وي چي باطل او فساد تـه بلونکي يو موټي او يو تر بله همکار وي او د حق او اصلاح پيروان او دعوتګر متفرق او پاشلي وي.

(او پر جزئي مسائلو اختلاف او تعصب يې تر منځ واټن ورزيات کړی وي، چي دا کار د اسلام د دښمنانو په ګټه تماميږي، ژباړن).

نو پـه دې صورت کي بـه مځکه د فساد او فتنې نه ډکه او لويه تباهي به رامنځته سي.

مسلمان ځوان بايد دغه څلور ګوني مسئوليتونه ښه درک کړي او ځان پـه وپوهـوي او د خپـل ځـان څخـه دي وپوښتي چي آيـا دغـه مسئوليتونه يـې منلـي، غـاړه يـې ورتـه ايښې او آيـا د دغـو دينـي مسئوليتونو حق يې پر ځای او اداء کړی؟

مسلمان ځوان بايد پـه اوسني عـصر کـي خپلـي دنـدې او مسئوليتونه وپېژني او د ليري او نږدې تاريخي پېښنو څخه ډېر درسونه او عبرتونه واخلي او په دې وپوهيږي چي څه ډول د اسلام پـه لاره کي د

اسلام سره حرکت وکړي تر څو اسلام ځواکمن سي او يو واقعي اسلامي حکومت رامنځته سي.

دا د مسلمانانو له پاره د شرم خبره ده، چي هر دين او د هر مذهب پيروان حکومتونه لري، خو اسلام او مسلمانان يې نه لري.

موږ د اسلام او مسلمانانو له پاره د داسي يوه حکومت غوښتونکي يو، تر څو وکولای سي چي: اسلامي عقيده، اسلامي شريعت، اسلامي اخلاق، اسلامي کلتور، اسلامي تمدن او د ژوندانه اسلامي نظام رامنځته او پلي کړي او داسي يوه ورځ د شک نه وتلې او خامخا راتلونکې ده.

وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿٤﴾ بِنَصْرِ ٱللَّهِ ۚ يَنصُرُ مَن يَشَآءُ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥﴾ وَعْدَ ٱللَّهِ ۖ لَا يُخْلِفُ ٱللَّهُ وَعْدَهُۥ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦﴾ (سورة الروم، ۴-٦ آيتونه).

ترجمه:

او په دغه ورځ به خوشحاله وي مومنان په مدد او مرسته د الله تعالي، دی (الله) مدد ورکوي چا ته چي وغواړي او دی (الله) غالب مهربان دئ وعده ده د الله ﷻ خلاف نه کوي الله تعالی د خپلي وعدې خو اکثره خلک نه پوهيږي.

و اخر دعوانا ان الحمدالله رب العالمين

ربنا تقبل منا انک انت السميع العليم و توب علينا انک انت التواب الرحيم

و۱۹/۱۹/مو امر الله بعيد

bawar.net